ايا له تاسو څخه يو څوک نه وېرېږي - يا ستاسو څخه څوک دا وېره نه لري چې: کله دی له امام څخه مخکې خپل سر راپورته کوي، چې الله جل جلاله به يې سر د خره وګرځوي، او يا به يې څېره د خره څېره وګرځوي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «ايا له تاسو څخه يو څوک نه وېرېږي - يا ستاسو څخه څوک دا وېره نه لري چې: کله دی له امام څخه مخکې خپل سر راپورته کوي، چې الله جل جلاله به يې سر د خره وګرځوي، او يا به يې څېره د خره څېره وګرځوي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه چا لپاره سخت ګواښ بيانوي چې له خپل امام څخه مخکې سر راپورته کوي، چې الله تعالى به يې سر د خره سر وګرځوي او يا به يې څېره د خره څېره وګرځوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3086